ليکوال: فضل الله رشتين نېټه ۱۳-۱۲-۲۰۱۰

# د افغانستان سياسي فضا پاکول او ښکلې کول غواړي

د افغانستان د ولسِي جرګې وروستی ټاکني په هيواد کښي يو سياسی بحران پيدا کړی دی. سياسي کارپوهان ددغو ټاکنو په اړه بيلابيل تحليلونه کوي او خپل خيالات څرګندوي. زمونږ د هيواد د هري طبقي خلک که ډاکټر دی، که معلم دی، که موټروان دی، که دوکاندار دی، که تاجر دی، لنډه داچي د هيواد ټول وکړي په انديښنه کي دي او نه پوهيږي چي د پردې تر شا څه تيريږي. په حقيقت کي هم له چاراواکو او هم له اولس څخه لار ورکه ده. د بي اعتمادئ او بي باورئ وريځي د هيواد په سياسي فضا کرځي راګرځی او معلومه نه ده چي په خلکو به څه به وريږي.

د ولسي جرګي د پاره ټاکني د سنبلي په مياشت کي تر سره شوي او پايلي يي د انتخاباتو د کميسيون لخوا د قوس په مياشت کي اعلان شوي. نه پوهيږو چي دا ولې؟ دا دومره انتظار د څه د پاره؟ دا د چا په نفع او د چا په تاوان تماميږي؟

د افغانستان اکثره خلک په دې باور دي چي په ټاکنو کښي تقلب شوی دی او دا ټاکني په هيڅ صورت مشروعيت نه لري نو ځکه دوي د ټاکنو د نتائجو د لغو کيدو غوښتنه کوي.

اوس که ټاکني لغو شي نو څه به پيښ شي او که لغو نه شي نو څه به پيښ شي. په دواړو حالتونو کښي ستونزه نه حل کيږي بلکي ستونزه نوره هم زياتيږي.

که انتخابات لغو شي نو هغه وکيلان چي په اصطلاح کټونکي دي، هغوي به آرام پاتي نه شي او هرومرو به خپل غږ را اوچتوي او که لغو نه شي نو هم به معترض نوماندان آرام پاتي نه شي .

څه بايد وشي ؟

زما په خيال ددې د پاره چي حالات عادي حالت ته راوګرځي او د يو لوي بحران مخه ونيول شي نو بهتره ده چي ستره محکمه يو تصميم ونيسي او د حقايقو په رڼا کښي يوه نهايي فيصله وکړي. داسي فيصله چي د اولس اکثريت ته د منلو وړ وي. همداشان ښاغلي ولس مشر ته ښائی چي د سترې محکمې د حکم په رڼا کښي د يو فرمان په صادرولو دا ستونزه حل کړي.

ددې ستونزې نه حل کيدل او په دې کې ځنډ کول د هيواد او هيوادوالو په نفع نه تماميږي. د آفغانستان له سياسي فضا نه بايد د بي باورئ او بي اعتمادۍ وريځې لر شی ترڅو د اعتماد او باور رڼا ښکاره او په دې رڼا کي هر څه روښانه او څرګند شي.

که چيرې نوی پارلمان پرانستل شی او په کار پيل وکړي نو له دې سره به مشکلات نور هم زيات شي او د جمهور رئيس محترم کرزي حکومت به د لا نورو ډيرو ستونزو سره مخامخ شي. ددې پارلمان فيصلي به له يوې خوا د افغان ملت اکثريت ته د منلو وړ نه وي او له بلې خوا به د هيواد ملي ګټو ته سخت تاوان ورسوي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

د هیواد جمهور رئیس ته ښایی چې د اولس ګټو ته ترجیع  او لومړیتوب ورکړي او هغه سیاست غوره کړي چې د هیواد او اولس په فائده وي. دا په ولسمشرپوري اړه لري چې څرنګه د افغانستان سیاسي فضا ښکلې او پاکه وساتي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ